# [تعریفونه] د مېز پر سر تمرین

## ۱. د سیېرا په غربب مېشتو سیمو کې څه تېرېږي؟ ۱۰ دقیقې

د سیېرا په غربب مېشتو سیمو کې چې له ۳۲۵۰۰۰ څخه ډېر وګړي په کې اوسېږي، پر ناروغۍ د اخته کسانو شمېر او د مړینې کچه د هرې شپې په تېرېدو سره په چټکۍ سره مخ پر زیاتېدو دي. ستاسو سازمان په ۲۰۰۱ کال کې په مایستان کې د خپل فعالیت له پیل څخه را پدېخوا، په کوم کال کې چې جګړه پیل شوه،اساساً په کلیوالي سیمو کې تمرکز کړی.

د سازمان نوې هېوادنۍ مشرې تازه په کار پیل کړی او غواړي د سیېرا په غربب مېشتو سیمو کې د کووېډ-۱۹ کړکېچ پر وړاندې د مبارزې او غبرګون لپاره فرصتونه ولټوي. تاسو اورېدلي چې نوې هېوادنۍ مشره زړه مفکوره لري، نو لومړی کار چې تاسو یې باید ترسره کړئ دا دی چې دا د کووېډ-۱۹ پر وړاندې د غبرګون په موخه خطر پوهاوي او ټولنیز مشارکت ته وهڅوئ.

تاسو نن ماسپښین له نوې مشرې سره غونډه لرئ او دې له تاسو څخه غوښتي چې له غونډې څخه مخکې پر لاندې مټریکس (جدول) کار وکړئ – چمتو شوی نمونه وګورئ – ترڅو هغې ته په سیېرا کې د غربب مېشتو سیمو په هکله د شته معلوماتو د تحلیل لپاره خپل پلان وروښئ. تاسو په دې هم پوهېږئ چې نوې مشره به له تاسو څخه وپوښتي چې خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت څه شی دی او ولې فکر کوئ چې په غربب مېشتو سیمو کې د کووېډ-۱۹ پر وړاندې مخنیوي مهم دی.

**ستاسو دنده: د وضعیت په هکله ستاسو معلوماتو ته په کتو او نورې د توجیه وړ فرضیې چې تاسو یې لرئ، خپلې نوې هېوادنۍ مشرې ته درې دقیقه یې پلان جوړ کړئ ترڅو وکولای شئ تشریح کړئ چې خطر پوهاوی او ټولنیز مشارکت څه شی دی، ولې مهم دی او د غربب مېشتو سیمو په هکله شته معلومات څرنګه تحلیل کولای شئ.**

[بېلګه: په سیېرا کې د غربب مېشته سیمو په هکله د شته معلوماتو د تحلیل پلان]

| د معلوماتو ډول | ولې اړتیا ورته لرئ | له چا څخه یې ترلاسه کوئ | دا معلومات د څه لپاره کاروئ |
|---|---|---|---|
| 1. | | | |
| 2. | | | |
| 3. | | | |
| 4. | | | |
| 5. | | | |

## ۲. اصلي لوبغاړي څوک دي؟ (۱۰ دقیقې)

د غونډې په پای کې ستاسو د سازمان نوې هېوادنۍ مشره ډېره قانع نه شوه...هغه نوې دې هېواد ته راغلې او غواړي چې په غربب مشتو سیمو کې د اصلي لوبغاړو په هکله ډېره پوه شي – هغه د باندونو په هکله ډېره نه پوهېږي. دا د RCCE مخفف چې تاسو یې په غونډه کې یادونه وکړه د هغې لپاره ګیچ کوونکی وو. هغې په خپلو وروستیو خبرو کې وویل: "موږ AAP ترسره کولو".

په هر حال، داسې ښکارې چې هغه ستاسو له کار سره لېوالتیا لري او په ځانګړې توګه لویانو، معلولیت لرونکو کسانو، ماشومانو او امېندوارو ښځو ته د رسېدنې په هکله اندېښمنه ده چې د دې ټولو کسانو د ژوند وضعیت په غریب مېشتو سیمو کې لا د مخه خورا خراب و او د ژمي په رارسېدو سره په کووېډ-۱۹ د اخته کېدو له خطر سره مخامخ دي.

ستاسو د سازمن نوې مشرې له تاسو څخه غوښتي چې د ښکېلو ارخونو د اغېزې/نفوذ جدول جوړ کړئ. هغې له تاسو څخه غوښتي چې دې اړخونو ته د رسېدو لپاره کوم چینلونه په ذهن کې لرئ.

**ستاسو دنده: د ښکېلو اړخونو د نفوذ په هکله د لاندې بېلګې په کارونې سره، لومړی د ښکېلو نفوذ لرونکو اړخونو جدول چمتو کړئ او دویم د هغو چینلونو نوملړ چمتو کړئ چې دې اړخونو ته د رسېدو لپاره یې کاروئ.**




## ۳. د مشارکتي ارزونې ترسره کول....۱۰ دقیقې

د اروپايي ټولنې د بشري مرستو او د ملکيانو د ساتنې اداره (ECHO) ستاسو له سازمان سره د سيټرا په غريب مېشتو سيمو کې د يوې ارزونې د ترسره کولو په موخه مالي مرسته کوي. ستاسو د سازمان مشرې دې اداره ته ويلي چې دا به "مشارکتي ارزونه" وي. مبارک، داسې ښکاري چې ستاسو هڅو د سازمان د ننه هڅو او عدالت غوښتنې پايله ورکړه.

د اروپايي ټولنې د بشري مرستو او د ملکيانو د ساتنې اداره (ECHO) غواړي ستاسو د سازمان د ارزونې د پلان په هکله معلومات ترلاسه کړي او ستاسو د سازمان مشرې له تاسو څخه غوښتي چې په هغه ويډيو کنفرانس کې د هغې ملتيا وکړئ چې سبا ماسپښين د يادې ادارې له مسئولينو سره ترسره کېږي او د ارزونې د پلانونو په هکله خبرې اترې کېږي.

**ستاسو دنده: تاسو بايد د اروپايي ټولنې د بشري مرستو او د ملکيانو د ساتنې ادارې مسئولينو ته تشريح کړئ چې له مشارکتي ارزونې څخه ستاسو موخه څه ده، له کومې ميتودولوژۍ او ابزارو څخه کار اخلئ له تاسو څخه بايد د کومو پايلو او څه وخت تمه ولري.**

## ۴. د ټولنې د فيډبک د ميکانېزم تنظيمول (۱۰ دقيقې)

لکه څرنګه چې چارواکو وېره درلوده، د کووېډ-۱۹ په هکله ناسم معلومات او آوازې په غريب مېشتو سيمو کې له خطر سره مخامخ کسانو ته د رسېدنې ترټولو جدي خنډ ګرځېدلی. په سيټرا کې مذهبي مشرانو د وضعيت د لا خرابولو لپاره خپلو پلويانو ته ويلي چې دا نوې ناروغي "د نفوس د کنټرول هڅه" ده چې د روغتيا د نړيوال سازمان او فيل مېټس – يو غربي ميليارډر او بشرپال کس چې مايکروسافټ يې تاسيس کړ – له خوا رامنځته شوې. ځينې نور بيا هغه کسان ګناهکار ګڼي چې پر کووېډ-۱۹ اخته شوي دي.

ستاسو سازمان تراوسه د فيډبک ورکولو ميکانېزم نه لري ترڅو د خلکو پوښتنو ته د دقيقو معلوماتو په وړاندې کولو او د آوازو پر وړاندې په مبارزه کې مرسته وکړي. د اروپايي ټولنې د بشري مرستو او د ملکيانو د ساتنې ادارې موافقه کړې چې ستاسو له سازمان سره – د هغه برښناليک له مخې چې ستاسو د سازمان مشرې ترلاسه کړی – د ټولنې د فيډبک د رښتيني ميکانېزم د تنظيمولو په موخه مالي مرسته کوي.

**ستاسو دنده: د ټولنې د فيډبک د تنظيم او د ډيز اين د څرنګوالي په هکله خپل پلان تشريح کړئ. په دې تشرېحاتو کې دا شامل دي چې تاسو په رښتني ډول کوم چينلونه کاروئ او د سازمان د ننه به د فيډبک ميکانېزم څرنګه اداره کېږي.**